دے، په دې کښې ستاسو اِمتحان دے، کتلے کيږي به چې د دوئي په معامله کښې د **الله** پاک د احکامو څومره حفاظت کوئ۔ [1]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: څوک چې د خپلو بچو د ضرورت پوره کولو د پاره د کوره (د کسب د پاره) اووتو هغه د خدائے په لاره کښې دے۔[2]

## د اولاد درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د اولاد ډير زيات حقونه دي، په کومو کښې چې يو څو حقونه مونږه مخکښې زده کړي دي، درې به نن زده کوو۔ راځئ چې وړومبے د زده کړے شوو حقونو دوهرائي وکړو: **(1)**: د ښې مور انتخاب (د تربيت شروع د مور د غيږې نه کيږي، مور چې څومره ښه وي هومره به د اولاد تربيت هُم ښۀ کيږي) **(2)**: د ماشوم په غوږ کښې اذان کول **(3)**: تحنيک (ګهټي ورکول) **(4)**: د ماشوم ښۀ نوم کينښودل **(5)**: عقيقه کول **(6)**:ښه تربيت کول۔

**نور درې حقونه کوم چې نن زده کول دي:**

### وړومبے حق: په اولاد کښې برابري کول

**وضاحت:** په حديثِ پاک کښې فرمائيلے شوي دي: د **الله** نه ويريږئ او په خپل اولاد کښې اِنصاف وکړئ--!! [3]

---

1...تفسير نسفي، پاره:9، سورۀ انفال، جلد:1 تحت الآيت:28۔

2...معجم كبير، جلد:19، صفحه:129، حديث:282، ملخصًا، مكتبة ابن تيميه۔

3...مسلم، كتاب الهبات، باب كراهة تفضيل بعض الاولاد في الهبة، صفحه:632، حديث:1623۔

## په اولاد کښې د برابرۍ مثالونه:

❀تولو بچو سره يو شان مينه کول پکار دي تر دې چې په ښکلولو کښې هم برابري پکار ده ❀که تحفه وغيره ورکوي نو ټولو ته دې ورکړي ❀ټولو بچو ته دې يو شان خرچه ورکوي ❀که بچي يو شان غلطي اوکړي نو په سزا ورکولو کښې هم برابري کول پکار دي په اولاد کښې برابري نۀ کولو سره نفرتونه، اختلافات، بغض او حسد وغيره پيدا کيږي۔

## دويم حق: نفقه پوره کول

**وضاحت:** د خوراک څښاک، د جامو او د اوسيدو د پاره د کور انتظام کول **نفقه** ده۔ [(1)]

د حديث شريف مطابق څوک چې د بال بچ د پاره حلال رزق ګټي، د قيامت پۀ ورځ به د هغۀ مخ د څوارلسمي د سپوږمۍ پۀ شان ځليږي ❀ د نابالغه بچي خرچه پۀ پلار باندې واجِب ده، اګر که هغه د پلار سره نۀ اوسيږي ❀ معذوره بچے کوم چې د ګټلو طاقت نۀ لري، د هغه خرچه هم پۀ پلار باندې لازم ده ❀ د نا وادۀ کړې لور خرچه هم د پلار پۀ ذِمه ده۔ [(2)]

## دريم حق: پۀ ښه رشته ميلاؤيدو باندې يـې وادۀ کول

**وضاحت:** رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې څوک ځلمے وي او پلار (د وَس لرلو باوجود) د هغۀ واده نۀ کوي، که څوي پۀ ګناه (مثلاً پۀ بدکارۍ وغيره) کښې اخته شو نو د هغې ګناه به پۀ پلار باندې (هم) وي۔ [(3)]

**نوټ:** عام طور ودونه د خرچو پۀ وجه ليټ کيږي، اِسلام نِکاح ډيره اسانه کړې ده۔ که مونږه د وادۀ پۀ معامله کښې هم سُنَّت اِختيار کړو نو د ډيرو فضول خرچو، قرضونو

---

1...بهارِ شريعت، جلد:2، صفحه:273۔

2...فتاوی رضویه جلد 24، صفحه:348، ملخصًا۔

3...شعب الايمان، باب فی حقوق الاولاد واهلين، صفحه:401، حديث:8666۔

